شتمنۍ
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:** د ايمان خوږوالی به د هغه چا په برخه وي، چي درې خبري پکښې پيدا سي: يو داچي له الله (ج) او رسول (ص) سره ئې تر بل هرڅه زياته مينه او محبت وي. دوهم داچي: که ئې له بل چا سره هم محبت وي؛ نو خاص به ئې د الله (ج) له پاره وي. دريم داچي: له ايمان راوړلو وروسته ئې د کفر څخه دومره نفرت وي؛ لکه: په اور کي له لوېدلوڅخه، چې ئې کرکه وي. [اخرجه مسلم باب حلاوة الايمان (ص: ٤٩ ج: ١)]

**رسول الله صلی الله علیه وسلم :می فرماید:** ترجمه: شیرینی ایمان از کسی است که سه خاصیت داشته باشد: اول اینکه به خدا و رسولش بیشتر از هر چیز محبت داشته باشد. دوم: اگر با کسی دیگری محبت می کند، محبتش خاص بخاطر الله متعال باشد. سوم اینکه بعد از ایمان آوردن، از کفر به حدی نفرت داشته باشد؛ قسمیکه ازافتیدن در آتش بیزار ونفرت دارد. {اخرجه مسلم باب حلاوة الايمان (ص: ٤٩ ج: ١)}

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

پنجشنبه | د جمادي الثاني ٢٢-١٤٤٥ / د مرغومي ١٤-١٤٠٢ / دجنوری ٤-٢٠٢٤ /دوهم کال / ٨١ گنه/ ٤ مخيز



## سر مقاله

### د بغلان ولايت د بورې فابريکې د بيارغوني چاري بشپړي سوې

د بغلان د بورې دولتي شرکت مسؤلين وايي، چي د بغلان د بورې د فابريکې بيارغوني چاري بشپړي سوي او اوسمهال په دې فابريکه کي شاوخوا (١٠٠) تنه په کار بوخت دي. تاکل سوې، چي په نږدې راتلونکي کي د دغه شرکت محصولات بازار ته وړاندي سي. د ترلاسه سوو راپورونو له مخي، که د بغلان د بورې دولتي شرکت فعاليتونه پراختيا و مومي دا به د هيواد د ټول بازار (٣٠٪) اړتيا پوره کړي. د بغلان د بورې دولتي شرکت په (١٣١٩) لمريز کال کي د هيواد په کچه د بورې د يوازينۍ فابريکې په توګه د المان په مرسته جوړ او فعاليت ئې پيل کړ. دغي فابريکې تر (١٣٧٠) کال پوري توليدات درلودل، خو وروسته د کورنيو جګړو د شدت له امله ئې کار په ټپه ودرېده. ياد شرکت په (١٣٨٥) کال کي د المان په مالي او تخنيکي مرسته بېرته فعال او د افغانستان دولت ته وسپارل سو. خو؛ له بده مرغه د نه پاملرني، د ستراتيژيك ليد د نشتوالي او د حکومت د نه ملاتړ له امله ياد شرکت له (٢٠٠٨) کال راهيسي له رکود سره مخ سو او تر همدې هجري لمريز کال پوري ئې د فعاليت دوره بنده سوه او هيڅ بنسټيز فعاليت ئې نه درلود. په هيواد کي له وروستيو پرمختګونو سره، د ماليې وزارت د دولتي شرکتونو د عمومي رياست رهبري پلاوي د دغه شرکت له مديره پلاوي سره په همغږۍ د يادي فابريکې د بيارغوني په برخه کي د څارني چاري ګړندۍ کړي دي. له هغې وروسته د يادي فابريکې د بيارغوني چاري بشپړي سوې او تمه ده، چي په نږدې راتلونکي کي به د يادي فابريکې سوداګريز فعاليتونه پيل او توليدات به ئې بازار ته وړاندي سي. که موږ د دې شرکت تېر وخت ته لنډه کتنه وکړو، نو معلومه به سي، چي د بغلان د بورې شرکت په افغانستان کي د اړتيا وړ بورې تر ټولو لويه وړاندي کوونکې فابريکه بلل کېده، چي په کال کي ئې ميليونونه افغانۍ عايد تر لاسه کول. په هغه وخت کي دغي کارخانې د بغلان ولايت له (٧٠٠ تر ٨٠٠) جريبه ځمکه کي کرل سوي چغندر پروسيس کول او له هغه څخه ئې د (٦٠٠) تنو په شاوخوا کي بوره ترلاسه کوله. اوس هم ياد شرکت د دې توان لري، چي د ستراتيژيکو پلانونو په جوړولو او د ظرفيتونو په پياوړي کولو سره د ځمکي په پراختيا او همدارنګه د بغلان د بورې د فابريکې د توليد په زياتولو سره د زرګونو کسانو لپاره د کار زمينه برابره کړي. په ورته وخت کي د ترلاسه سوو معلوماتو پر بنسټ د بغلان يو شمېر اوسېدونکي او د بغلان د بورې فابريکې کارکوونکي هم تمه لري، چي په دې فابريکه کي د توليداتو د زياتوالي لپاره د زمينې په برابرولو سره به د دغه ولايت اوسېدونکو ته د کار زمينه برابره سي. د دولتي شرکتونو د لوی رياست رهبري پلاوي هم د دې فابريکې د فعاليتونو د ښه والي او توليداتو د زياتوالي په موخه هر اړخيز پلانونه لري، چي په پلي کېدو سره به ئې د هيوادوالو په زړونو کي د دغه شرکت تاريخي مقام را ژوندی سي. د هيواد ملي توليدات به پياوړي سي، ملي عايدات به لوړ سي او د هيواد په کچه به زرګونو هيوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره سي.

درنښت
اداره

# د خصوصي شرکتونو د تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د ورکولو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس ترسره سو





د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو څخه مخکي د خصوصي شرکتونو د تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د ورکولو په تړاو مطبوعاتي کنفرانس د ماليې وزارت په خيبرهال کي ترسره سو. په دې کنفرانس کي د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د مالي چارو معين حاجي عبدالقدير احمد، د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود، د افغانستان بانك استازي شيخ عبدالرحمن قانت، د خصوصي سکتور يو شمېر مسؤلينو او رسنيو استازو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت د مالي چارو معين حاجي عبدالقدير احمد په خپلو خبرو کي وويل، چي د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو څخه وروسته يوه لويه ستونزه، چي ورسره مخ وه، هغه پر نظام باندي د حکمي او حقيقي اشخاصو د پورونو، تضميناتو، تأميناتو او طلباتو موضوع وه. د اسلامي امارت د اقتصادي کمېسيون د پرېکړي پر بنسټ د ماليې وزارت په مشرۍ يوه کمېټه جوړه سوه، چي د تېر حکومت ټول پورونه، تضمينات، تأمينات او طلبات تثبيت او د ورکړي لپاره ئې يو ميکانيزم ترتيب کړي، ياد ميکانيزم د ماليې وزارت له لوري ترتيب، چي وروسته بيا د اقتصادي کمېسيون او د ا.ا.ا د کابينې د تائيد او منظورۍ وړ وګرځېد. ښاغلي احمد زياته کړه، چي د کابينې د پرېکړي او د ترتيب سوي ميکانيزم پر بنسټ د پورونو د ثبت په موخه له ټولو ادارو څخه يوه واحده کمېټه جوړه سوه، چي په پايله کي (٢٦) ادارو خپل پورونه له ماليې وزارت سره شريك کړي دي، چي د رياست الوزراء مقام د حکم او د (١٤٠٢) مالي کال د ملي بوديجې د اصولنامې پر بنسټ د پورونو د ورکړي په موخه خپل اجراآت پيلوي. د خزاينو لوی رئيس نصرت الله محمود هم په خپلو خبرو کي وويل، چي له فتحې وروسته د هغو پورونو د مسئلې د حل په موخه، چي له تېر نظام څخه اسلامي امارت ته پاته دي، د اقتصادي کمېسيون د پرېکړي پر بنسټ، د ماليې وزارت په مشرۍ يوه کمېټه جوړه سوه، چي د خلکو د پورونو د تاديې او بېرته ورکولو د ځرنګوالي په اړه ئې د کار تفصيل او هر اړخيز طرزالعمل ترتيب او د اقتصادي کمېسيون د تائيد او د کابينې د منظورۍ وړ وګرځېد. د خزاينو لوی رئيس زياته کړه، چي اقتصادي کمېسيون د تثبيت پروسې د پر مخ وړلو مسؤليت د ماليې وزارت ته وسپاره. د ياد کمېسيون د هدايت پر بنسټ، ماليې وزارت په هره اداره کي يوه ګډه کمېټه جوړه کړه، چي د اسلامي امارت له بيا حاکميت څخه مخکي پورونو، تضميناتو او تأميناتو په تړاو کار وکړي هغه تثبيت کړي، حقيقی سلنه ئې معلومه او له ماليې وزارت سره ئې شريک کړي، چي په پايله کي (٢٦) ادارو د تثبيت پروسه بشپړه او له ماليې وزارت سره ئې شريکه کړه او د يادي کړنلاري او د (١٤٠٢) کال د ملي بوديجې د اصولنامې پر بنسټ، چي د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) له لوري منظور سوې، د روان کال تر پايه پوري به د دوی د پورونو (١٠) سلنه اجراء سي. د يادوني وړ ده، چي د خبري ناستي په پای کي د خبريالانو پوښتني هم ځواب سوې.

## د روان مالي کال د تعرفې کمېټې پنځمه ناسته تر سره سوه

د روان مالي کال د تعرفې کمېټې پنځمه ناسته د ګمرکونو او عوايدو معين ښاغلي ملا عبدالقاهر ادريس په مشرۍ د ياد معينيت د غونډو په تالار کي ترسره سوه. په دې ناسته کي، چي د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزير ښاغلي نورالدين عزيزي او د تعرفې کمېټې غړو هم ګډون کړی وو، د سوداګرو او صنعتکارانو د غوښتني له مخي د کورني توليد څخه د ملاتړ، د سوداګرۍ او دولتي عوايدو د ودې د اصل ته په کتو سره د يو شمېر وارداتي اقلامو د ګمرکي تعرفې په اړه په لاندي ډول پرېکړي وسوې، چي د ماليې وزير له منظورۍ وروسته به د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ وي.

| شمېره | د جنس نوم | پخوانۍ تعرفه | د پرېکړي له مخي اوسنۍ تعرفه |
|---|---|---|---|
| ١ | له روميانو څخه جوړ سوی کيچپ | ١٠ سلنه | ٣٠ سلنه |
| ٢ | د کاليو مينځلو پوډر | ١٢ سلنه | ١٦ سلنه |
| ٣ | ګوګړ | ٥ سلنه | ١٠ سلنه |
| ٤ | لاساني تختې (MDF) | ٥ سلنه | ٨ سلنه |
| ٥ | اوسپنيز ميخونه | ٨ سلنه | ١٢ سلنه |
| ٦ | اغزن تار (سيم خاردار) | ٨ سلنه | ١٦ سلنه |
| ٧ | ډيجيټلي تلي | ٢.٥ سلنه | ٥ سلنه |
| ٨ | ترېشل ماشينونه | ١٦سلنه | ٢٠ سلنه |
| ٩ | ژوندي چرګان | ٢٠ سلنه | ٤٠ سلنه |

**په ذکر سوو توکو باندي په داسي حال کي تعرفه لوړېږي، چي د دغو توکو بديل خپله افغانستان لري، د هيواد دننه توليدېږي او تر ډېري کچي د هيوادوالو اړتياوي پوره کولای سي.**



**د ښاري مسافر وړونکو ملي بس دولتي شرکت فعاليتونو پراخوالی موندلی**

م ۲



**د غوري سمينټو د فابريکو په توليداتو کي د پخوا په پرتله د پام وړ ښه والی راغلی دئ**

م ۲



**د لوېديځ زون مستوفيتونو د عوايدو څانګي کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروګرام جوړ سو**

م ۲



**د نيمروز ګمرک د ګرځنده څارني کارکوونکو د ګزمو پر مهال بېلابېل قاچاقي توکي نيولي دي**

م ۲



**به حد اکثر رساندن درآمد و بررسی روش های کسب آن**

م ۳




م ٤

# د ښاري مسافر وړونکو ملي بس دولتي شرکت فعاليتونو پراخوالی موندلی



د ماليې وزارت اړونـد د ښـاري مسـافر وړونکـو مـلي بـس دولتـي شرکـت، چـي د مسـافرتي خدمتونـو پـه برخـه کـي فعاليـت کـوي، د څـو لسـيزو پـه مـوده کـي ئـې فعاليتونـه محـدود ول؛ خـو د اسـلامي امـارت لـه بيـا واکمنـۍ او د ماليـې وزارت د رهـبرۍ او د يـاد شرکـت د ځانګـړي پاملـرني لـه املـه ئـې فعاليتونـو د پـام وړ پراخوالـی موندلـی.

د دغـه شرکـت د مسـؤلينو د هڅـو پـه پايلـه کـي د (۱۴۰) عـرادې ښـاري بسـونو د اسـاسي ترميـم او ګټـي اخيسـتني تـر څنـګ، د دغـه شرکـت فعاليـت پـه مزارشريـف، هـرات، بدخشـان، تخـار، پکتيـا او کاپيسـا کـي پيـل او پـه راتلونکـي کـي بـه نـورو ولايتونـو تـه هـم وغځيـږي.

اوس مهـال ښـاري بسـونه (د سـهار لـه ٦ بجـو څخـه د ماښـام تـر ۷:۳۰ بجـو) پـوري پـه (۱۷) لارو (مسـيرونو) کـي د (۵ او ۱۰) افغانيـو کرايـې پـه اخيسـتلو سره خدمـات وړانـدي کـوي او پـه پـام کـي ده، چـي د روان کال تـر پايـه بـه پـه ښـپږو نـورو مسـيرونو کـي هـم فعالـت پيـل کـړي. دا پـه داسـي حال کـي ده، چـي د اسـلامي امـارت تـر بيـا واکمنـۍ مخکـي دغـه شرکـت د (۳٦) بسـونو پـه لرلـو سره پـه (۴) مسـيرونو خپـل فعاليـت تـرسره کاوه؛ همدارنګـه ئـې د کپـي کشـۍ، رنګولـو، سـيټ ګنـډني، د ډيـزل پمـپ چـک او بررسـۍ او د ماشـينونو د ترميـم برخـه، چي ډيـره محـدوده او حتـی غيـر فعالـه وه، بيـا ځلي فعاله سـوې ده.

د دې شرکـت جايـداد او ملکيتونـه د هيـواد پـه بيـلا بيلـو سـيمو (پـه خوشـحال خـان مينـه کـي د مـلي بـس دوهمـه حـوزه د (٦۰۰۰۰) مـتره مربـع پـه مسـاحت، پـه خواجـه بغـرا کـي د مـلي بـس دريمـه حـوزه د (۲٦۷۰۲) مـتره مربـع پـه مسـاحت، پـه کابـل ننـدارې کـي د برېښـنايي بسـونو جنکشـن د (۵۰۰) مـتره مربـع پـه مسـاحت، پـه کارتـه پـروان کـي د برېښـنايي بسـونو جنکشـن د (۵۰۰) مـتره مربـع پـه مسـاحت او د تخـار ولايـت د مـلي بـس نمايندګـۍ آمريـت د (٦۰۰۰) مـتره مربـع پـه مسـاحت سره) د نـورو دولتـي ادارو پـه واک او يـا د سـيمي د يـو شـمېر خلکـو پـه غصـب کـي وې، چـي د ښـاري مسـافر وړونکـو مـلي بـس دولتـي شرکـت د مشرتابـه د هڅـو پـه پايلـه کـي ځينـي برخـي بيرتـه ترلاسـه او پاتـه نـوري برخـي بـه پـه نـږدې راتلونکـي کـي ترلاسـه سي.

د ښـاري مسـافر وړونکـو مـلي بـس دولتـي شرکـت د (۲۵۴) تنـو داخلـي پرسـونل او شـاوخوا (۳۰۰) تنـو لـه تشـکيل څخـه بهـر پرسـونل پـه لرلـو سره د خپلـو اسـاسي او غيـر اسـاسي عوايـدو لـه درکـه غـوره عوايـد ترلاسـه او د دولـت خزانـې تـه ئـې سـپارلي دي او لـه بلـې خـوا ئـې د خلکـو لپـاره د کار زمينـه هـم برابـره کـړې ده.

د يـادوني وړ ده، چـي د ښـاري مسـافر وړونکـو مـلي بـس دولتـي شرکـت پـه (۱۳٤۰) لمريـز کال کـي د سرويـس شرکـت پـه نامـه د (۳۰۰) ميليونـه افغانيـو ابتدايـي پانګـي پـه لرلـو سره تأسـيس سـو. پـه (۱۳۵۴ل) کال کـي پـه دولتـي تصـدۍ بـدل سـو او د ماليـې وزارت پـه چـوکاټ کـي ئـې فعاليـت کاوه. پـه (۱۳۵۸ل) کال کـي د (۱۳۵۸/۴/۳۱) نېټـې (۱۷۵۰) ګڼـې فرمـان لـه مخـي ئـې د رهـبرۍ مسـؤليت ټرانسـپورټ وزارت تـه وسـپارل سـو. پـه (۱۳۹۷ل) کال کـي ئـې شـخصيت پـه دولتـي شرکـت بانـدي واوښـت او د ماليـې وزارت تـر چـتر لانـدي ئـې خپل فعاليت روان کـړ.

## د لوېديځ زون مستوفيتونو د عوايدو ځانګي کارکوونکو ته انلاين روزنيز پروګرام جوړ سو

د ماليـې وزارت د بـشري سرچينـو رياسـت د عوايـدو لـوی رياسـت پـه همـکارۍ د لوېديـځ زون (هـرات، نيمـروز، بادغيـس، فـراه او غـور) مسـتوفيتونو د عوايـدو څانګـي کارکوونکـو تـه (پـر عايداتـو د مالياتـو قانـون او د عوايـدو طرزالعملونـو) پـه تـړاو انلايـن روزنيـز پروګـرام جـوړ کـړ.

پـه همـدې مناسـبت د عوايـدو معينيـت د کنفرانسـونو د تـالار پـه جـوړه سـوې ناسـته کـي د ماليـې وزارت د ګمرکونـو او عوايـدو لـوی رئيـس الحـاج شـېر محمـد مشـفق، د بـشري سرچينـو رئيـس مولـوي احمدشـاه شـاکر او يـو شـمېر نـورو مسـئولينو هـم ګـډون کـړی وو.

د بـشري سرچينـو رئيـس مولـوي احمدشـاه شـاکر د دغـه پروګـرام پـه پرانيسـتې وينـا کـي وويـل، چـي د ماليـې وزارت رهـبري تـر خپـل لاس لانـدي د هـري څانګـي د کارکوونکـو ظرفيـت لـوړوني تـه ژمـن دئ؛ ترڅـو هغـوی د خپـل ظرفيـت لوړولـو او مسـلکي پوهـي لپـاره زده کـړي وکـړي، پـه همـدې اسـاس د بـشري سرچينـو رياسـت لـه پيـل څخـه



لـه کـوم ځنـډ پرتـه انلايـن روزنيـز پروګرامونـه روان سـاتلي.

د خزاينـو لـوی رياسـت او نـورو اړونـدو ادارو لـه لـوري هـم پـلاوي بېلابېلـو ولايتونـو تـه د سـتونزو او وړانديزونـو اورېـدو او حلولـو پـه موخـه سـفرونه کـړي دي. نومـوړي همـدا راز لـه زده کوونکـو وغوښـتل، چـي دغـه موضـوع جـدي ونيـسي او لـه شـته امکاناتـو او فرصتونـو څخـه پـه اسـتفادې دي خپـل مهارتونـه او مسـلکي پوهـي تـه وده ورکـړي او هغـه څـه چـي زده کـوي پـه عمـل کـي ئـې پـلي کـړي.

د عوايـدو لـوی رئيـس الحـاج شـېر محمـد مشـفق هـم پـه خپلـو خـبرو کـي وويـل، کارونـه هغـه څـوک پـه سـمه توګـه تـرسره کـوي، چـي کارونـه سـم زده کـړي او د عمـل پـه سـاحه کـي ئـې پـلي کـړي، چـي دغـه چـاره پـه کارونـو کـي د شـفافيت، دقـت او چټکتيـا لامـل کيـږي. کورسـونه او روزنيـز پروګرامونـه هـم پـه همـدې موخـه جـوړ سـوي دي، نومـوړي لـه کارکوونکـو وغوښـتل، چـي د خپلـو وړتيـاوو او مسـلکي پوهـي د پراختيـا تـر څنـګ دي د اسـلامي امـارت د اسـتازو پـه توګـه لـه مراجعينـو سره غـوره چلنـد او اخـلاق هـم پـه پـام کـي ونيـسي.

د يـادوني وړ ده، چـي دغـه پروګـرام بـه يـوه اوونـۍ دوام وکـړي، چـي پـه هغـه کـي بـه ګډونوالـو تـه (پـر عايداتـو د مالياتـو قانـون، د عوايـدو طرزالعملونـه، سـيګتاس سيسـټم) او نـور اړونـد اړيـن موضوعـات تشريح او تدريـس سي.

## د نيمروز ګمرک د ګرځنده څارني کارکوونکو د ګزمو پر مهال بېلابېل قاچاقي توکي نيولي دي

د نيمـروز ګمـرک د ګرځنده څـارني کارکوونکو د دې ولايت پـه اړونـدو سيمو کـي بېلابېـل قاچاقي توکي کشف او نيـولي دي.

پـه نيـول سـوو توکـو کـي (۲.۵) ټنـه انسـاني درمـل، (٦۴) ټنـه مالتيـې، (۱۴) پارسـله پلاسـتيک، (۱۴۸۱) کارټنـه خوراکـي رُب، (۳۸) ټنـه ګـوړه، (۱۴) ټنـه شـيريني، (۲.۵) ټنـه جـوس او (٦۰) عـرادې موټرسـايکلونه د څـو ګزمـو او را پورتـو ترلاسـه کولـو پـر بنسـټ کشـف او نيـولي دي، چـي قاچاقچيانـو غوښـتل پـه پټـه ئـې هيـواد تـه را وارد کـړي.

همدارنګـه پـه دې توکـو کـي (۹۲۰) کيلـو ګرامـه د انسـان د سر ويښـتان، چـي قاچاقچيانـو غوښـتل پاکسـتان هيـواد تـه ئـې پـه پټـه واړوي، کشـف او نيـولي دي.

ټـول نيـول سـوي توکـي د نـورو اجراآتـو لپـاره د نيمـروز ګمـرک تـه سـپارل سـوي او تـورن کسـان بـه ئـې اړونـدو پلټونکـو ادارو تـه ور وپېژنـدل سي.



## د غوري سمينټو د فابريکو په توليداتو کي د پخوا په پرتله د پام وړ ښه والی راغلی دئ




د غـوري سـمينټو د لومـړۍ فابريکـې د جوړولـو چـاري پـه (۱۳۳۸) کال کـي د (۴۷) ميليونـه افغانيـو ابتدايـي پانګـي پـه لګښـت او د غـوري سـمينټو د دوهمـي فابريکـې د جوړولـو چـاري پـه (۱۳٦۵) کال کـي د (۹۴) ميليونـه افغانيـو پـه لګښـت د چکسـلواکيا هيـواد تـر نظـر لانـدي پيـل سـوې. د لومـړۍ فابريکـې د توليـد ظرفيـت پـه يـوه شـپه او ورځ کـي (۴۰۰) ټنـه سـمينټ او د دوهمـي فابريکـې د توليـد ظرفيـت پـه يـوه شـپه او ورځ کـي (۱۰۰۰) ټنـه سـمينټ کيـږي، چـي د دواړو فابريکـو د توليـد ظرفيـت پـه يـوه شـپه او ورځ کـي (۱۴۰۰) ټنـه سـمينټو تـه رسـيږي. دا چـي اوس مهـال د غـوري سـمينټو فابريکـو ډيـری تجهيـزات او ماشـينونه لـه منځـه تللـي؛ خـو سره لـه دې بيـا هـم د ماليـې وزارت د دولتـي شرکتونـو لـوی رياسـت د هـر اړخيـز ملاتـړ او د دغـو فابريکـو د رهبرۍ د هلـو ځلـو پـه پايلـه کـي توانېـدلي دي، چـي پـه يـوه شـپه او ورځ کـي لـه (۴۰۰ څخـه تـر ٦۰۰) ټنـو پـوري سـمينټ توليـد کـړي، پـه داسـي حـال کـي، چـي د غـوري سـمينټو د فابريکـو توليـد پـه يـوه شـپه او ورځ کـي پخـوا (لـه ۳۰۰ څخـه تـر ۳۲۰) ټنـو پـوري رسـېده.

د غـوري سـمينټو فابريکـې د (٦۹۸) تنـو تجربـه لرونکـو کارکوونکـو پـه لرلـو سره توانېـدلي، چـي د هيوادوالـو د اړتيـا وړ (٦) سـلنه سـمينټ پـوره کـړي، د بغـلان، تخـار او کنـدوز ولايتونـو شـاوخوا (۷۰) سـلنه اړتيـا پـوره کـړې ده.

اوس مهـال ئـې د يـو ميليـارډ افغانيـو پـه ارزښـت د (۱۹۵۰۰۰) ټنـه سـمينټو د برابرولـو قـرارداد لاسـليک کـړی دئ.

دا فابريکـې پـه دوامـداره توګـه د خپلـو توليـدي فعاليتونـو لپـاره ماشـينونه پيـري، چـي د بېلګـي پـه توګـه د ايـران او چين څخـه د پنځـه ماتورونـو او يـوه ګيربکـس يادونه کولای سـو.

## امتحان تحريری بست رياست اقتصاد بزرگ وزارت ماليه اخذ گرديد



وزارت ماليـه متعهـد بـه سـپردن کار بـه اهـل کار، ايجـاد شـفافيت در ادارات مربوطـه خويـش و جـذب کادر هـای داخلـی بـوده و همـواره در ايـن راسـتا تـلاش نمـوده اسـت.

بـر همـين اسـاس رياسـت منابـع بـشری امتحـان تحريـری بسـت رياسـت اقتصـاد بـزرگ را از طريـق رقابـت آزاد و بطـور شـفاف اخـذ نمـود.

ايـن امتحـان در حضـور داشـت نـصرت اللـه محمـود رئيـس عمومـی خزايـن، نجيـب احمـدزی سرپرسـت رياسـت اقتصـاد بـزرگ و پاليسـی هـای مالـی و مطيـع اللـه مجـددی رئيـس هماهنگـی، نظـارت و گزارشـدهی معينيـت پاليسـی در صالـون خيـبر ايـن وزارت اخـذ گرديـد.

قابـل يـاد آوريسـت کـه در ايـن امتحـان (۱۳) نفـر اشـتراک کـرده بودنـد کـه از مجمـوع اشـتراک کننـدگان (۱) تـن از کسـانی کـه بالاتريـن نمـره را در امتحـان تحريـری و تقريـری کسـب کـرده باشـد، در بسـت مربوطـه جذب می گـردد.

# به حد اکثر رساندن درآمد و بررسی روش های کسب آن

خالد دلاور
آموزگار اکادمی گمرکات



**مقدمه**

در دنیای پرشتاب و رقابتی امروزی، کسب و به حداکثر رساندن درآمد برای همه افراد و تجارت پیشه ها بطور یکسان حیاتی است. خواه شما کار آفرین، طراح آزاد یا صرفاً به دنبال تکمیل درآمد خود باشید، درک بهترین راه های کسب درآمد می تواند بر موفقیت اقتصادی، اجتماعی و روانی شما تأثیر گذاشته و باعث این شود تا فشار معدود مسایل مالی را تجربه کنید.

- برای روز های جاری و زمان های نامتداول، ظرفیت صرفه جویی را افزایش دهید.
- ثبات مالی بیشتر را تجریه کنید.
- دیگر ناگزیر نیستید، با دستمزد که دارید یا مزد که دیگران برای شما در نظر می‌گیرد، کنار بیاید.

این مقاله به راهبردها و روش‌های مؤثر برای کسب درآمد می‌پردازد و بینش‌هایی در مورد چگونگی بهینه سازی توانایی مالی ارائه می‌دهد.

## کسب درآمد با پیدا کردن یک شغل مناسب

بسیاری از شما در هنگام انتخاب رشته تحصیلی خود و اینکه چه شغلی برای شما مناسب است' تردید داشتید. شما باید با تجربه و تحلیل شخصیت خود برای کسب درآمد، شغلی متناسب با شخصیت تان پیدا کنید. یافتن شغل متناسب و مطابق با شخصیت، یک دیدگاه عاقلانه و هوشمندانه است که می تواند برای مشاغل آینده بسیاری مفید باشد. تصمیمات که در دوران دانش آموزی خود می گیرید و موقعیت های که انتخاب می کنید، به شما کمک می کند، توانایی هایی لازم را برای ورود و موثر بودن در زمینه های شغلی انتخابی تان، بدست آورید. زمانی که اکثر مردم برای برنامه ریزی تعطیلات سالانه خود اختصاص می دهند، نسبت به زمانی که برای انتخاب یک شغل مناسب برای کسب درآمد خود صرف می کنند، بسیار بیشتر است. خوشبختانه آمار نشان میدهد که در دو دهه گذشته تعداد افراد تحصیل کرده به طور قابل توجهی افزایش یافته و قرار است همچنان رو به افزایش باشد؛ و این امر به معنی رقابت بیشتر برای مشاغل مناسب فارغ التحصیلان است.

ایجاد تنوع در جریان های درآمد (به فکر شغل دوم باشید)
یکی از مؤثرترین راه‌ها برای درآمدزایی، تنوع بخشیدن به جریان‌های درآمدی است و افرادی‌که به دنبال افزایش راه های درآمد اند، باید بپذیرند که نیاز به تلاش بیشتر و خواب کمتر دارند، به ویژه فاصله گرفتن از موارد مانند رفتن به میله، تفریح، محافل و همچنان مصارف غیر ضروری دیگر... طوریکه یکی از اصول های اقتصادی نیز است: هزینه یک چیز عبارت از چیزی دیگری است که برای بدست آوردن آن از دست میدهید. تکیه بر یک منبع درآمد می تواند مخاطره آمیز باشد، زیرا عدم اطمینان اقتصادی و تغییرات در صنایع مختلف می تواند بر درآمد تأثیر بگذارد. با کاوش همزمان چندین راه، مانند شغل های جانبی(شغل دوم)، سرمایه گذاری، تجارت انلاین یا منابع درآمد غیرفعال مانند طلا، املاک اجاره، می‌توانید خطر را به حد اقل رسانیده و قابلیت درآمد کلی را به حد اکثر برسانید. بسیاری از افراد در افغانستان ضمن وظایف اصلی یا اولیه، برای برآورده ساختن نیاز های خویش، شغل دیگری هم دارند. کارمندان دولتی و خصوصی، در کنار وظایف اولیه خود، در اوقات فراغت با شغل های جانبی مانند تجارت انلاین، شغل دکانداری، تجارت های خرید و فروش موترها، املاک، و...، بر علاوه مرفوع ساختن نیاز های اولیه خویش، عاید مناسبی نیز بدست می‌آورند.

## استقبال از دنیای دیجیتال یا مجازی

عصر دیجیتال فرصت های بی پایانی را برای کسب درآمد باز کرده است. سکوهای آنلاین راه های متعددی را برای نمایش مهارت ها، محصولات یا خدمات شما ارائه می دهند. چه بخواهید، چه نخواهید، در هر حال فضای کسب و کار همه کشور ها به سمت اینترنتی شدن می رود. این یعنی نهایتا بتوانید چند سال دیگر در مقابل اینترنتی شدن کسب و کارتان مقاومت کنید و در نهایت یا باید تغییر را انتخاب کنید یا حذف شوید. برای طراحان آزاد، وب‌سایت های مانند Fiverr، Up work، و Freelancer به مشتریان جهانی که به دنبال استعداد های خاص هستند، دسترسی دارند. سکوهای تجارت الکترونیک مانند eBay، Amazon یا Shopify، به کسب وکار ها این امکان را می‌دهند تا به پایگاه های مشتریان گسترده تری دست یابند. علاوه بر این، کسب درآمد از طریق وبلاگ‌ها، پادکست‌ها، کانال های یوتیوب یا سکوهای رسانه های اجتماعی می‌تواند باعث جذب حامی مالی، تبلیغات یا فرصت های بازار یابی وابسته شود.

## سرمایه گذاری در اقتصاد اشتراکی

اقتصاد اشتراکی به عنوان یک مدل اجتماعی - اقتصادی بر اساس استفاده مشترک از کالاهای بدون استفاده و غیر ضروری تعریف شده است، تا تولید و کسب و کار رونق بگیرد؛ این سرمایه ها می توانند به صورت زمان، پول و دارایی، کالا و حتی خدمات باشند. نکته مهم این‌که، اقتصاد اشتراکی در بطن خود دارای رگه های از نظام اسلامی نیز می‌باشد، به‌طور نمونه با توجه به بخش تعاون، مشارکت، و رفاه از جمله موضوعاتی اند که در اسلام نیز به آن اشاره شده است. ظهور اقتصاد اشتراکی گزینه های بی شماری برای درآمدزایی ایجاد کرده است. سکوهای مانند Uber، Airbnb، و TaskRabbit به افراد این امکان را می‌دهند که از منزل‌ها، ماشین‌ها یا وقت خود با ارائه مکان های اقامتی، حمل و نقل یا خدمات مختلف کسب درآمد کنند. استفاده از این سکو ها نه تنها درآمد اضافی را فراهم می‌کند، بلکه از دارایی های موجود به طور موثر استفاده می‌کند و آن را به گزینه ای برای درآمد زایی بهینه تبدیل می‌کند. به عنوان مثال در فضای اقتصاد اشتراکی می توان در تسهیم ماشین آلات کشاورزی هم اقداماتی مناسبی به کار گرفت و اگر بتوانیم بخشی از زیر مجموعه های کسب و کار های اشتراکی مانند بخش حمل و نقل اشتراکی را به داخل کشور بیاوریم خواهیم توانست بخشی از اقتصاد حاصل از این بخش را فعال کنیم.

## سرمایه گذاری هوشمندانه

سرمایه گذاری می‌تواند به طور قابل توجهی به تولید ثروت و ایجاد درآمد غیر فعال کمک کند. در واقع سرمایه گذاری یکی از راه های افزیش پول را کد است. تخصیص بخشی از درآمد خود به ابزار های سرمایه گذاری متنوع، مانند طلا، اسهام، اوراق قرضه، صندوق های شاخص یا املاک و مستغلات، به پول شما این امکان را می دهد تا برای شما کار کند. باید بدانید که هر سرمایه گذاری که به سود رسید، سرمایه گذاری هوشمندانه نیست؛ چراکه ممکن است این فرد با کمک دانش سایرین به این سود رسیده باشد. با این حال، انجام تحقیقات کامل، جستجوی مشاوره حرفه‌ای، تمام سرمایه خود را صرف خرید یک سهام نکردن و ارزیابی تحمل خطر قبل از غوطه ور شدن در هر فرصت سرمایه گذاری بسیار حایز اهمیت است.

## ایجاد یک شبکه قوی

شبکه ها نقش اساسی در ایجاد فرصت های درآمدی دارند. با تقویت ارتباط با افراد همفکر، کار شناسان صنعت و مشتریان بالقوه، شانس یافتن سرمایه گذاری های پرسود را افزایش می دهید. با افراد موفق و ثروتمند، هم نشین و دوست شوید، در رویدادهای صنعت شرکت کنید، به سازمان های حرفه‌ای بپیوندید و فعالانه در سکوهای، رسانه‌های اجتماعی مشارکت کنید تا شبکه خود را گسترش دهید و جریان‌های درآمدی ارزشمند را باز کنید.

ایجاد محصولات یا خدمات با تسهیلات و امکانات بیشتر
شناسایی شکاف ها در بازار و ارائه محصولات یا خدمات با ارزش افزوده منحصربه فرد می‌تواند بازی را تغییر دهد. فراموش نکنیم هیچ حسی برای مشتری و مصرف کننده بالاتر از حس رضایت از خرید و انتخاب درست نخواهد بود. انجام تحقیقات بازار، درک نیاز های مصرف‌کننده و تمرکز بر کیفیت می‌تواند به شما کمک کند تا جایگاه مناسبی پیدا کنید و درآمد ثابتی را تضمین کنید. نوآوری، تطبیق و ارتقای پیشنهادات خود را برای جلوتر از رقبا و به طور مستمر برآورده کردن خواسته های مشتریان رضایت مشتریان را افزیش میدهد. یکی از چالش برانگیز ترین مفاهیم ایجاد تمایز و خلق احساس امنیت و ارزش برای مشتریان و مصرف کنندگان استفاده از خدمات با ارزش افزوده برای آنان است. به عنوان مثال: اگر یک فروشنده گوشی موبایل با فروش گوشی علاوه بر اخلاق مداری و سلوك نیک با مشتری، موارد دیگری از قبیل شارژر، بی‌سیم، و باتری پرکُن همراه را بطور رایگان برای مشتری هدیه دهد، نسبت به رقبا فروشات بیشتر کرده و درآمد بیشتر حاصل میکند.

## جمع‌بندی

به حداکثر رساندن درآمد مستلزم ترکیبی از دانش مالی، تفکر راهبردی، سازگاری، و رویکردی فعال برای کاوش در منابع مختلف درآمد است. افراد در کسب و کار ها با تنوع بخشیدن به جریان های درآمد، استقبال از انتخاب شغل مناسب و جانبی، دنیای دیجیتال، سرمایه‌گذاری بر اقتصاد اشتراک‌گذاری، سرمایه‌گذاری هوشمندانه، ایجاد شبکه های قوی و ارائه محصولات یا خدمات با امکانات بیشتر می‌توانند توانایی درآمد خود را بهینه کنند. یادگیری مستمر و روند های در حال تحول بازار با آگاه ماندن در مورد فرصت های در حال ظهور و استفاده از مهارت ها و منابع منحصر به فرد خود، می‌توانید در چشم انداز اقتصادی حرکت کنید و موفقیت مالی بلند مدت را تضمین کنید.

# اعلانات داوطلبی

### داوطلبی پروژه تخلیه و بارگیری اموال گمرکی در گمرک های کندهار و سپین بولدک

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه (تخلیه و بارگیری اموال گمرکی در گمرک های کندهار و سپین بولدک) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1402/NCB/NCS-095

که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۱/ جدی/۱۴۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ دلو /۱۴۰۲ ساعت۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۲۵۰,۰۰۰ (دو صد و پنجاه هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان- ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۱۵۶

### داوطلبی تدارک تجهیزات سیستم سولر و تطبیق آن برای مستوفیت های ولایات مربوط ریاست عمومی عواید

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء ( تدارک تجهیزات سیستم سولر و تطبیق آن برای مستوفیت های ولایات مربوط ریاست عمومی عواید) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1402/NCB/G-090-Rebid

که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ۲۰/ جدی /۱۴۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ دلو/۱۴۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۷۰۰،۰۰۰ (هفتصد هزار) افغانی میباشد.
آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

### اعلان داوطلبی موازی (۳۲۹۷.۲۵) متر مربع زمین مع یک باب تعمیر مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل

ریاست عمومي املاک دولتی وزارت مالیه جایداد دولتی موازی (۳۲۹۷.۲۵) متر مربع زمین مع یک باب تعمیر مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل را بشکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد. در صورتیکه اشخاص، موسسات و شرکت های محترم واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱۴) منزله سینمای پامیر سپرده بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمایند.

### د کابل ولایت اړوند د (۵) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت اړوند د مختلفو ناحیو(۵) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له پاره اعلان ته وسپاري.
۱. د کابل ولایت (۱٦) مې ناحیې اړوند د بګرامیو نساجي په داخل کي یو باب هنګر او شنه ساحه، چې (۹۳۰.۹) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۱٦۷۱۴) افغانۍ ده.
۲. د کابل ولایت (۱٦) مي ناحیې اړوند د بګرامیو نساجي ته مخامخ د (۳۴۷.۷۰) متره مربع ځمکه، چې میاشتنۍ کرایه ئې (۳۷۰۰) افغانۍ ده.
۳. د کابل ولایت د (۷) مې ناحیې اړوند عمومي سړک ته مخامخ د جنګلک فارم، چې (۵۵۰.۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۴۱۴۰۰) افغانۍ ده.
٤. د سینما پامیر او میوند شفاخانې ترمنځ د دوه باب اطاقونه، چې (۴۴،۸۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۲۸۳۸۴) افغانۍ ده.
۵. د پشمینه بافي سره د (۲۲۱۰) متره مربع ځمکه، چې میاشتنۍ کرایه ئې (۴۵۴۰۰) افغانۍ ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپرېدو څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سویو ملکیتونو شرطپاڼي د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.



د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنۍ SHTAMANI اوونیزه




## Fifth Session of Tariff Committee of Current Fiscal Year Convened

The fifth meeting of the Tariff Committee of the current fiscal year led by Deputy Minister of Customs & Revenues, Mullah Abdul Qahir Edris was held in the meeting hall of DM for Customs and Revenues.

Hon. Nooruddin Azizi, Minister of Industry and Commerce of Afghanistan and the members of the Tariff Committee also attended the meeting. According to the request of businessmen and industrialists, considering the basis of supporting domestic production, business and state revenues, the customs tariff of some imported items was decided as follows, after the approval of the MoF, it will be applicable in all customs of the country.

| NO. | Item | Previous Tariff | New Tariff (based on decision) |
|---|---|---|---|
| 1. | Tomato Ketchup | 10% | 30% |
| 2. | Powder For Washing Clothes | 12% | 16% |
| 3. | Matches | 5% | 10% |
| 4. | MDF Boards | 5% | 10% |
| 5. | Iron nails | 8% | 12% |
| 6. | Fence | 8% | 16% |
| 7. | Digital Weighing Scales | 2.5% | 5% |
| 8. | Thresher machines | 16% | 20% |
| 9. | Live chickens | 20% | 40% |

The tariff is increased on the mentioned goods while Afghanistan has its own substitute for these products or .items; they are produced within the country and can meet the needs of the compatriots

## Nimroz Customs Mobile Surveillance Staff Seizes Various Contrabands Amid Patrols



Nimroz Customs mobile surveillance staff has detected and seized different contrabands in the relevant areas of this province. Among the seized contrabands, there are 2.5 ton of medicines, 64 ton of malts, 14 parcels of plastic, 1,481 cartons of tomato paste, 38 ton of jaggery, 14 ton of sweets, 2.5 ton of juice and 60 bikes have been detected and seized based on several patrols and reports, which the smugglers wanted to secretly import into the country. Likewise, 920kg of terminal hair, which the smugglers wanted to smuggle to Pakistan, was detected and seized. All the seized contrabands have been handed over to Nimroz Customs for further processing and the accused persons will be introduced to the relevant investigative bodies.




## افغانستان په راتلونکو ۳ کلونو کي د ځانبسیایني تمه لري

د چین شینوا (Xinhua) خبري اژانس د افغانستان د ځانبسیایني، سوداګریزو اړیکو، ملي بودیجې او صادراتو په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر نورالدین عزیزي په حواله یو راپور چمتو کړی دئ.
ښاغلي عزیزي په یاد راپور کي څرګنده کړې ده، چي اداره ئې تلاښ کوي، چي په راتلونکو دریو کلونو کي ځان بسیایني ته و رسېږي او ویلي ئې دي:
"موږ د ځان بسیایني پر خوا روان یو او په راتلونکو دریو کلونو کي به دا هدف ترلاسه کړو. موږ به خپلي سوداګریزي اړیکي هم ښې کړو."
په راپور کي له ملي عوایدو څخه د افغانستان د ملي بودیجې د جوړېدو په تړاو د سرپرست وزیر صاحب خبري هم را اخیستل سوي دي او په اړه ئې ټینګار کوي:
"موږ باید خپله بودیجه له خپلو ملي عوایدو و لرو، موږ باید بهرنیو مرستو ته اړتیا پیدا نه کړو."
راپور د افغانستان صادراتو ته هم د ښاغلي وزیر صاحب په حواله اشاره کوي او زیاتوي:
"موږ شاوخوا له (٦۰) څخه زیاتو هیوادونو ته صادرات درلودل. دا یو حقیقت دئ، چي زموږ عمده صادرات هند، پاکستان او چین ته ځي. موږ هڅه کوو، چي سر له اوس څخه منځنۍ اسیا او روسیه په نخښه کړو."
د افغانستان په صادراتو کي «سکاره، زعفران، تازه او وچه مېوه، لاسي غالۍ، قیمتي او نیمه قیمتي ډبري» په عمده صادراتي توکو کي را وستل سوي دي.
یاد اژانس په امریکایي بانکونو کي د افغانستان د (۹) میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت کنګل سوي شتمنۍ ته په اشارې سره لیکلي دي، چي افغانستان ئې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ کړی دئ.

## Before Reestablishment of IEA Payment of Claims, Guarantees & Guarantee Fees to State Bodies launches



In accordance with the order of Prime Ministership of IEA, the payment of claims, guarantees and guarantee fees of a number of contracting companies, Legal and real persons to state bodies before the re-establishment of IEA has been approved, which the said loans will be given in the light of principle of national budget. Before re-establishment of IEA, the works of a large number of projects remained incomplete in various procurement processes, the salaries of the contracting companies were not paid and the salaries of some employees were not executed, which as stated in the requests of mentioned legal and real persons and contracting companies; MoF decided to arrange a certificate for the good management of private sector guarantees and guarantee fee, and the issuing of enforceable demands of bodies; So that in its light, the state bodies can address the problems of the private sector and besides the completion of public projects, it will also provide an opportunity for the economic strengthening of the country. Depend on the guidance of the cabinet of IEA, joint working committees of state bodies including the MoF have been formed in order to accurately determine the debts of the agencies, as a result of the assessments of the said committees, the remaining claims or demands, guarantees and guarantee fees of 26 institutions have been determined so far. The payment of demands, guarantees and guarantee fees of acceded bodies will be started according to the order of Prime Ministership based on the rules of the national budget. Notably, after the confirmation of the demands, guarantees and guarantee fees of the remaining bodies, the process of payment will also be incepted according to the principles.



د مالیې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

PR No: 121 1402 -10- 09

### د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه مخکي پر دولتي ادارو د پاته طلباتو، تضميناتو او تأميناتو ورکړه پیلېږي

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د حکم پر بنسټ، د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه مخکي پر دولتي ادارو د یو شمېر قراردادي شرکتونو، حکمي او حقیقي اشخاصو د پاته طلباتو، تضميناتو او تأميناتو ورکړه تائید سوې ده، چي د ملي بودیجې له اصولنامې سره سم به یاد پورونه ورکول سي.
د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه مخکي د زیات شمېر پروژو کارونه په مختلفو تدارکاتي پروسو کي نیمګړي پاته ول، د قراردادي شرکتونو حقوق نه ول ورکول سوي او د ځینو کارکوونکو معاشونه هم نه ول اجراء سوي، چي د یادو حکمي او حقیقي اشخاصو او قراردادي شرکتونو د غوښتنو پر بنسټ؛ د مالیې وزارت پرېکړه وکړه، چي د خصوصي سکټور د تضميناتو او تأميناتو د ښه مدیریت او د ادارو د اجراء وړ طلباتو د ورکړې سند ترتیب کړي؛ ترڅو د هغه په رڼا کي دولتي اداري وکولای سي د خصوصي سکټور ستونزو ته رسېدنه وکړي او د ټولګټو پروژو د بشپړېدو تر څنګ به د هیواد اقتصادي پیاوړتیا ته هم زمینه برابره سي.
پر همدې بنسټ د اسلامي امارت د کابینې او اقتصادي کمېسیون له هدایت سره سم، د مالیې وزارت په ګډون د دولتي ادارو ګډې کاري کمېټې جوړې سوې؛ ترڅو په دقیق ډول د ادارو پورونه تثبیت کړي، چي د یادو کمېټو د ارزونو په پایله کي تر دې دمه د (26) ادارو پاته طلبات، تضمينات او تأمينات تثبیت سوي دي.
د تثبیت سوو ادارو د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو ورکړه به د ریاست الوزراء د حکم پر بنسټ د ملي بودیجې له اصولنامې سره سم پیل سي.
د یادوني وړ ده، چي د پاته ادارو د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو له تثبیت وروسته به له اصولو سره سم، د هغو د ورکړې پروسه هم پیل سي.

afghanistanmof www.mof.gov.af